# د ټولو ښاریانو دپاره حقوقی مصونیت

د ۱۳۸۱ کال را پدې خوا د المان فدرال حکومت د هالند او فنلند سره یوځای د افغانستان ملاتړ کوي چې یو اغیزمن دولتی عدلي سیستم منځته راوړي. که څه هم په دې لاره کې ښه پرمختګونه شویدی، خو بیا هم یو لړ سمونتیاوو ته اړه شته تر څو د ښاریانو دپاره د قانون حاکمیت هم په ښاري سیمو کې او هم په کلیو کې تضمین شي.

## وضعیت

د طالبانو د رژیم د نسکوریدو څخه وروسته، د افغانستان اساسي قانون د یوه قانونمند دولت د بنسټ په توګه په کال ۲۰۰۴ کې تصویب شو. خو د دې قانون د احکامو په پلی کولو کې نیمګرتیاوی لیدل کیږي: د قضايي نهادونو لکه د افغانستان د عدلیې وزارت، څارنوالی او سترې محکمې کارکوونکو د خپلو دندو د ترسره کولو دپاره اغلباً په بسیا توګه روزنه نه ده موندلې. سربیره پردې، بیلابیل عدلي اداري خپل کارونه په بسیا توګه نه همغږه کوي. له همدې کبله د افغانستان اتباع اغلباً خپلو حقونو ته لاسرسی او حقوقي مصونیت نلري. همدارنګه په افغانستان کې څو ډوله حقوقي سیستمونه یو د بل تر څنګ شتون لري لکه عرفي قوانین، شریعت او هغه قوانین چې د ملي شورا له خوا تصویبیږي. زیات شمیر افغانان چې بله لار ورته پاتې نشي، د پخوا په شان په بشپړ غیررسمي جوړښتونو باندې باور کوي او د حقوقي مصونیت نشتوالی مني.

## موخه

د پروژې موخه داده چې په هیواد کې خلکو ته د حقوقي مصونیت دتامینولو په لاره کې د افغانستان د حکومت څخه ملاتړ وکړي. له همدې کبله مهمه ده چې عدلي او امنیتي اداري د قانون سره سم عمل وکړي. سربیره پردې، باید د حکومت اصلاحات او قوانین د خلکو د حقونو سره سمون ولري. د دې لپاره چې اتباع وکولای شي د خپلو حقونو څخه ګټه واخلي باید هم په کلیوالي او هم په ښاري سیمو کې له دغو حقونو څخه خبرتیا ولري. د اداري فساد څخه باید مخنیوی وشي او د هغه پرضد باید په فعاله توګه مبارزه وشي.

## ګام اخیستګام اخیستنه او پایلې

## په یو نظر کې



په بدخشان، هرات، جوزجان، تخار، کندوز، بغلان، سمنګان او بلخ ولایتونو کې فعالیتونه

**پروګرام:** د قانون د واکمنی تینګښت

**دستور ورکوونکې اداره:** د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) د هالند د سلطنت دبهرنیو چارو وزارت، د فلند د بهرنیو چارو وزارت

**شریک:** د افغانستان د عدلیې وزارت

**پلی کونکې اداره:** Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH

**Provinces:** بدخشان
،
**Provinces:** بغلان
،
**Provinces:** بلخ
،
**Provinces:** هرات
،
**Provinces:** جوزجان
،
**Provinces:** کندز
،
**Provinces:** سمنګان
،
**Provinces:** تخار

د دې پروګرام په مرسته خلکو ته د حقوقي سلامشورې کيفيت سمون وموند او د هيواد په نورو سيمو کې حقوقي سلامشوره ممکنه شوه. په دې توګه اتباع کولای شي د خپلو حقونو په باب پوهاوي په لاس راوړي او د هغو څخه ګټه واخلي. د حقوقو په مديريتونو کې د خلکو حقوقي ستونزې حل کيدلای شي. د دغو ادارو کارکوونکو ته روزنه، د قوانينو متنونه، او مسلکي کتابونه ورکړل شول او سربيره پردې د ښوونکو له خوا هغوی ته لارښونه ورکول کيږي. د خلکو له خوا د هغوی د منلو کچه د هغوی دوامداره حضور، وړتيا او ناپيلټوب سره لوړه شوې ده: د ۲۰۱۳ کال راهيسې د دعواوو قاضيانو د ۸۰۰۰۰ زياتو قضيو ته رسيدګی کړيده. سربيره پردې، د حقوقو جوړښوي مديريتونو، د عدليې وزارت د ولاياتو په ادارو کې ځارنوالۍ او همدارز په محکمو او محابسو کې د حقوقي سلامشورو تالارونو د خلکو دپاره دا زمينه برابره کړيده چې مناسبه عدلي دفاع په لاس راوړي. څرنګه چې حقوقي وکيلان اوس کولای شي په خپل ځای کې هم د وکالت آزموينه ورکړي، د راجسترشويو وکيلانو شمير د مثال په توګه په کندز کې د ۱۳۹۰ کال نه را پدې خوا د ۱۲ تنو نه ۸۵ تنو ته زياتوالی موندلی دی چې د هغو له ډلې نه ۲۸ تنه يې ښځې دي. په ګاونډي ولايت يعنې تخار کې د ځارنوالۍ د آزموينې فارغان حتی د ځان دپاره يو دفتر جوړکړی دی.

د تولوېښتنو پايلې ښيي چې د خلکو سره د پوليسو او دولتي ځواکونو نږديوالی هم د پام وړ زياتوالی موندلی دی. د پوليسو او خلکو تر منځ تفاهم او دوه اړخيزه باور ورو ورو منځته راځي. د ۱۳۹۱ کال نه راهيسې د ۱۲۰۰۰ تنو نه زيات پوليسو د حقوقي موضوعګانو او ورځنيو ستونزو لکه د نارينه وو او ښځو تر منځ همکاري او همدارز د خلکو د ټولو پلو سره د حساس چلند په باب په روزنيزو پروګرامونو کې ګډون کړی دی. په دې توګه هغوی کولای شي خپلې دندې په ډيره ښه توګه ترسره کړي. د دې پروګرام په ملاتړ د شخړو د رفع کولو په اړه د خلکو د استازو او دولتي ادارو تر منځ غونډې جوړيږي او هغوی ته د شکايتونو صندوق ورکول کيږي. دا راز غونډې د کورنيو چارو د وزارت د روزل شويو کارکوونکو له خوا پرمخ بوول کيږي. د نوموړو غونډو يوه دريمه برخه ښځې دي.

د حقوقي موضوعګانو په باب په بيلا بيلو مواردو کې لکه په ښوونځيو، راديويي پروګرامونو او تلويزيوني اعلانونو، کنفرانسونو يا د تياتر په نندارو کې معلوماتي کمپاين پيل شو او د هغه په ترڅ کې نارينه وو او ښځو ته د هغوی د حقونو په باب څرګندوني وشوې. د هيواد د شمالي ولاياتو د حقوقو او شرعياتو په ټولو پوهنځيو کې بشپړيزه تخصصي دورې، د حقوقو متنونه او مسلکي کتابونه برابر شول او اوس مهال د حقوقي موضوعګانو او د حقوقو د مسلک او ځانګې ته د ننوتلو په باب د ۱۵۰ نه زيات روزنيز پروګرامونه جوړيږي او د افغاني حقوقپوهانو او مسلکي کارکوونکو له خوا پرمخ بوول کيږي. سربيره پردې، دا پروګرام د حقوقي علومو د ښځينه زده

**د پروګرام موخه:** افغاني نهادونو ته د سلامشورې او د شخړو د رفع کولو په موخه د قانون د واکمنۍ د ادارو د منځته راوړلو له لارې د اتباعو د پاره د حقوقي مصونيت تامينول

**Overall term:** ورى ١٣٨٢ – غويي ١٤٠٠

## اضافي معلومات

- په عدلي او قضايي ادارو کې لنډ په لنډه ورځني کاروونه (https://www.ez-afghanistan.de/ps/story/%D9%BE%D9%87-%D8%B9%D8%AF%D9%84%DB%8C-%D8%A7%D9%88-%D9%82%D8%B6%D8%A7%DB%8C%DB%8C-%D8%A7%D8%AF%D8%A7%D8%B1%D9%88-%DA%A9%DB%90-%D9%84%D9%86%DA%89-%D9%BE%D9%87-%D9%84%D9%86%DA%89%D9%87-%D9%88%D8%B1%DA%81%D9%86%DB%8C-%DA%A9%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%86%D9%87)
- Fact sheet: Legal Certainty for all Citizens (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-ROL-d-Pashto.pdf)

## اړيکه

بيند ميسه شميت GIZ GmbH په افغانستان کې د قانون حاکميت ته وده ورکولو د پروژې مدير
bernd.messerschmidt@giz.de

کوونکو ښځه مسلکي ژوند ته د ننوتلو په لاره کې تر ټولو د مخه د عملي پروګرامونو له لارې ملاتړ کوي. په حقوقي کلینیکونو کې د زده کوونکو عملی کتنه تامینیږي. دلته هغوی واقعي مواردو ته رسیدګی کوي او د محکمې تمثیلي غونډې جوړوي.

د ۱۳۹۴ کال راهیسې د مدني ټولني سازمانونه چې د کوچنیانو د حقونو، عدالت غوښتنې او د اداري فساد پر ضد د مبارزې په ډګرونو کې په کار بوخت دي هم د سلامشورو او د ډیالوګ د غونډو له لارې غښتلي کیږي چې ځان سمبال کړي او د هغوی اندیښنو ته غوږ ونیول شي. د بدخشان او بلخ په ولایاتو کې ښځې کولای شي د مثال په توګه خپلې ستونزې د جندر مسئولو کسانو ته چې د مدني ټولنې د سازمانونو له خوا روزل شوی دي ووایي او په دې توګه مناسې سلامشورې په لاس راوړي. په کابل کې د ښځو د سازمانونو ټولنه او د ښځو د چارو د وزارت کارکوونکي د عدلي او قضایي موضوعګانو په باب په روزنیزو پروګرامونو او ورکشاپونو کې ګډون کوي. په دغو پروګرامونو کې هغوی هڅول کیږي چې په بربنده توګه د ښځو د ګټو دپاره مبارزه وکړي.